## مطبوعاتي اعلاميه

### د اعدام ظالمانه حکمونه او بې شرمانه قتلونه مو د نظام ثبات نه ساتي او نه د دغه جنايت پر وړاندې د خلکو د راولاړېدو مخه نيسي

(ژباړه)

د روان ميلادي کال د فبرورۍ په ۲۰مه، العربي الجديد وېبپاڼې د مصر د کورنيو چارو وزارت د زندانونو سکتور له يوې سرچينې نه په نقل، رپوټ ورکړ چې محکمې د مصر د لوی مفتي په تاييد، نهه تنه مسلمان ځوانان د لوی څارنوال، هشام برکات د سلاکار د ترور په تور اعدام او جسدونه يې سرې خونې ته تسليم کړل. د اعدام دا حکم د استناف په زندان کې د يوه څارنوال، يوه روحاني او يوه عدلي ډاکټر په شتون کې پلی شو. د نړيوالي بښنې سازمان، ورسته له دې چې دوی له زندان نه استناف محکمې ته د اعدام د تيارۍ لپاره يوړل شول، د ورځې په پای کې ماښام شاوخوا په يوه اعلاميه کې له مصري چارواکو غوښتي وو چې دغه ظالمانه حکم پلی نه کړي؛ په ضمن کې له يادې بيانيې ښکارېدل چې دا ځوانان د هغې پېښې له امله چې د ۲۰۱۵م کال د جون په ۲۹مه وشوه، په ډېر وحشيانه ډول نيولي او د دې لپاره چې اعتراف وکړي، ډېر ظلم او شکنجه يې ليدلې.

دغې نوې عامه‌وژنې، د مصر د مظلومو خلکو پر وړاندې، دغه رژيم په دوامدارو جناياتو کې يو بل جنايت ور اضافه کړ. تر يوې مياشتې په کم وخت کې ۱۸ تنه مصري بچيان اعدام شول چې وروستي يې دا ۹ مسلمان ځوانان وو. خلک پر دغه واقعيت ښه پوهېږي چې په يوه داسې قضيه کې چې هېڅ قانع کوونکي دلايل نه لري، دا او له دوی مخکې ځوانان سره له دې چې جرم يې قطعا نه و ثابت شوی، نيول او امنيتي سرويسونو ته لېږل کېږي. د دې خبره واقعيت د محمود احمدي په نامه يوه ځوان په خبرو کې ښکاري چې ويډيو يې له الرصد شبکې او نورو انټرنټي شبکو نه نشر شوې؛ دی په ډېره معصومانه توګه قاضي ته وايي: «زه په څنګ کې مې نور مظلومان به د قيامت په ورځ د الله سبحانه و تعالی په حضور کې ستا دښمنان وو او ته پر دې ښه پوهېږې!» قاضي يې په ځواب کې وويل: «خو تا، محمود، پخپله اعتراف نه دی کړی؟» محمود يې په ځواب کې وويل: «ماته يو د برق شوک ورکوونکی راکړه، بيا به وګورې چې څنګه د انور سادات پر قتل اعراف نه کوې. موږ ته دومره برقي شوک راکړل شوی چې مصر ته يې شل کاله برق ورکولی شوی.» همدارز، ده قاضي ته د هغه پوليس په اړه وويل چې دی يې د محکمې په سالون کې شکنجه کاوه. دا او د يقيني دلايلو د نشت خبره بس وه چې قاضي د اعدام حکم وځنډوي يا يې مخه ونيسي.

نو له دې خبرې ښکاري چې دا ډول محکوميتونه دغو قاضيانو ته د دوی د داخلي او خارجي بادارانو لخوا ورکول کېږي او دا په حقيقت کې د مصر د خلکو لپاره يو پيغام دی چې ستاسو لپاره هېڅ کوم تضمين نشته او نه مو د پوليسو، پوځ او قاضيانو د اعدام د کړۍ ملاتړی شته، چې په پټه خوله د خپلو بادارانو له اطاعت او پرېکړو يې له پلي کولو پرته بله چاره نه لري. لکه څنګه چې قاضي دوی ته وايي: «ستاسو لپاره هېڅ اميد نشته، پرته له دې چې هغو خبرو ته تسليم شئ او اطاعت يې وکړئ چې په سپينه ماڼۍ کې يې د دوی باداران غواړي.» ده دا خبره د پاميپو تر بيانيې او د قاهرې په زړه کې د دغه رژيم له خونړي عمل نه تر مستقيم ملاتړ وروسته کړې. سيسي په مونيخ کې وويل، څه چې په مصر کې تېرېږي هغه د «اسلامي ترهګرۍ» پر وړاندې جګړه ده او بيايي له غربي رهبرانو وغوښتل چې مصر کې هغه جوماتونه وګوری چې ده له منځه وړي او سوځولي يې دي.

کوم کارونه چې دغه رژيم او رهبر يې په دې وروستيو کې کوي، د دې لپاره دي چې د اساسي قانون د تعديل -چې دی تر مرګه پر قدرت پرېږدي- د مخالفانو خوله پټه کړي، د خکلو په زړونو کې وېره او رعب پيدا کړي او انقلابي روحيه يې - چې د دغو خلکو په طبعيت کې ده او ټول په دې پوهېږي- له منځه يوسي. د رژيم دغه احمقانه او ويجاړوونکي تصميمونه د دې لامل شوي چې خلک د دوی پر وړاندې انقلاب ته اړ کړي. نو، که خلک د دغه له بديل نه خبر وئ او يوه مخلصه سياسي رهبري يې درلودی چې د غرب او مزدورانو پر وړاندې يې مبارزه کولی شوی، يو داسې انقلاب به يې کړی و چې د سيسي، رژيم او پلويانو استبدادي څراغ يې د تل لپاره مړ کړی و.

**ای د مصر الکنانه قاضيانو!** په دې کې هېڅ شک نشته چې د دغو ځوانانو او بل هر بېګناه وينه چې د تاسو د پرېکړې په نتيجه کې توېږېږي، ستاسو په غاړه ده. سيسي نه تاسو ته کومه ګټه رسوی شي او نه مو د قيامت په ورځ د قهار خدای پر وړاندې شفاعت کولی

شي. په دغو کارونو به د الله متعال قهر درباندې وشي او هرو مرو به يې ځواب ورکوئ. د دنيا د لنډ ژوند ټولې خوښۍ او خوندونه د دوذخ له لړ اور، د زقوم وينې يوه لمړۍ خوراک او يا هغو خوټېدلو اوبو له يوه څاڅکي سره برابر نه دي چې څښئ به يې. نو که د دوزخ له اوره ځان ژغورلی شئ، څه مو چې زړه غواړي ويې کړئ؛ که داسې نه وي، ژر به د الله سبحانه و تعالی حضور ته ورشئ، د هغو بې‌ګناه کسانو قتل به مو له مرۍ نيسي چې ستاسو په حکم وژل شوي او د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې به د دغو کارونو په سبب ذليل او شرمېدلي وئ. د خدای تعالی پر وړاندې يو کس تر هغه پورې ازاد دی(سزا نه ورکول کېږي) چې په ناحقه د چا وينه توېې نه کړي. دا خبره يوازې ستاسو په اړه نه؛ بلکې د ټولو هغو کسانو لپاره ده چې د بې‌ګناه کسانو په وينو تويولو کې شريک وي، شهادت يې ورکړی وي او د خپل دغه کار په اړه يې هېڅ د بدبينۍ احساس نه وي کړی.

**اې د مصر الکنانه خلکو!** هېڅکله د دغه رژيم لخوا د بنديانو له قتل او وينو تويولو مه وېرېږئ؛ ځکه دا رژيم ستاسو د وېرولو لپاره بې‌ګناه مسلمانان ځوروي او شکنجه کوي يې، ترڅو تاسو او هېواد مو په خپله قبضه او کنټرول کې راولي. د دغه رژيم حاکمان د هغو کسانو وينې تويوي چې د دوی او د دوی د اقتدار پر وړاندې د انقلاب او را پاڅېدو هيله لري. نو مه يې پرېږدئ چې پر تاسو يې لاس بر شي او خپلو چټلو هيلو ته ورسېږي. پر دې پوه شئ چې د رژيم دا کړنې د دوی کمزوري او ډار ښيي او تاسو کمزوري نه يئ؛ بلکې له هغوی نه پياوړي يئ. يوازينی شی چې اړتيا ورته لرئ، د اسلام پروژه «د يوه دولت په چوکاټ کې» ده چې حزب التحرير يې تاسو ته لېږدوي او د الکنانه په پوځ کې ستاسو د د مخلصو زامنو او ورونو په نصرت يې هېڅوک پر وړاندې د درېدو وړتيا نه لري؛ نه رژيم، نه يې ساتونکي، نه مزدوران او نه يې په سپينه ماڼۍ کې بادارن؛ ځکه چې د دوی د استبدادي حکومت عمر پای ته رسېدلی.

**اې د الکنانه پوځ مخلصو افسرانو!** دا وينې چې اوبو غوندې روانې دي، هغه مسله ده چې په تاسو پورې اړه لري. په خدای قسم که دا رژيم پو هېدای چې په تاسو کې داسې کسان شته چې يوازې د الله سبحانه و تعالی په خاطر په غوسه کېږي، د «دين» حرمت يې ساتي او له مظلومانو سره مرسته کوي؛ هېڅکله به يې د«بې ګناوو» د دغه هېواد د خلکو د وينو تويولو جرات نه و کړی. په دې پوه شئ چې له دغه رژيم، بې عدالتيو، تېريو او ظلمونو سره په همکارۍ او د رژيم د جنايتونو پر وړاندې په چوپ پاتې کېدو سره د دغه هېواد د بې‌ګناه خلکو په وينه تويولو کې شريکان يئ. تر هغه به رستګار نه شئ چې له دغه رژيم سره خپلې اړيکې پرې او له الله سبحانه و تعالی سره يې ټينګې نه کړئ او بيا په حزب التحرير کې د اسلام د دعوت له حاملينو سره چې د نبوت پر منهج د خلافت بيا تاسيسولو لپاره هڅې کوي؛ هغه دولت چې له دغه رژيم سره به د دغو جنايتونو حساب کوي، اسلام به پلی کوي ترڅو هر څوک شهادت پرې ورکړي او د هوښيارانو لپاره د عبرت درس وي، الله سبحانه و تعالی د مظلومانو زړونه ټکور کوي. يوازې ريښتينی اسلامي خلافت دی چې ټول هغه څه به بېرته واپس کړي چې دغه رژيم د مصر له خلکو چور کړي او غرب ته يې د دغه چور او چپاول موکه برابره کړې او د دوی ورک شوی عزت او ځواک به بېرته ورکړي... هغه ورځ به مومنان له هغې فتحې او بريا نه خوشاله شي چې الله سبحانه و تعالی ورکړې؛ خدايه دا فتح او بريا ژر راباندې ولوروه!

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ)**

[انفال: ٢٤]

***ژباړه:*** *اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! د الله او د هغه د پيغمبر بلنې ته لبيک ووايئ کله چې پيغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ښونکی دی. او پوه شئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حايل دی. او د هماغه لور ته به تاسو ور غونډ کړای شئ.*

**د حزب التحرير ولايه مصر مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۴/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق کال د جمادي الثاني ۱۶مه**

**۲۰۱۹م کال د فبروري ۲۱مه**